## الدرس الرابع
## خلورم درس

### توحيد اللأسماء والصفات
### توحيد اللأسماء والصفات

**د الله** پاک د بعض صفاتو مثالونه:

**الله پاک فرمائي** :« وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ» {المائدة: ٦٤} ترجمه : او وائي يهوديان لاس د الله پاک بند کړی شوی **دی** ، (الله پاک فرمائي) بند دِکړېږ شي لاسونه ددوی ، او لعنت کړی **شویدی** په دوی باندی په سبب د **هغې** چې دوی وویل ، بلکه دواړه لاسونه د الله پاک فراخه دی ، خرچ کوی څرنګه چې اوغوړي ، پدی آیت کښې الله پاک خپل ځان دپاره دوه لاسونه ثابت کړی دی او د هغوي دپاره ئی دا صفت ثابت کړی دی چې فراخه خرچه کونکی دی، نو په مونږ لازم دی چې ایمان ولروچې د الله پاک دپاره دوه لاسونه دی په ورکړه او نعمتونو باندی فراخی کونکی دی ، لیکن په زړه کښې به د **هغې** تصویر نه جوړه وؤ او نه به په ژبه پکښې خبری کوؤ چې په داسی داسی طریقه دی، او نه به د**مخلوق** د لاسونوسره تشبیه ورکوؤ، څکه چې الله پاک فرمائي: «لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ» {الشُّوری:١١} ترجمه : دهغه پشان هیڅ نیشته او هغه هر څه اوری هر څه وینی، ددی قسم توحید خلاصه داده چې په مونږه لازم دی چې الله پاک لره به هغه څه ثابتوؤ چې د خپل ځان دپاره ئی ثابت کړی وی، یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورله بیان کړی وی ، او هر هغه څه به دالله پاک د ذات نه نفی کوؤ چې الله پاک دخپل ذات نه نفی کړی وی، او یا رسول الله صلی الله علیه وسلم **تری** نفی کړی وی ، دا اصول په ټولو اسماء او صفات کښې چلیږی ، یعني بغیر د تحریف(بدلولو) نه ، بغیرد تمثیل(مثال بیانولو) نه ، بغیرد تکییف(شکل بیانولو) نه او بغیر د تعطیل(د معنی نه انکار کولو) نه ټول اسماء اوصفات د الله پاک منل .